سپیڅلی



لیکوال: سپیڅلی
ایډیټر: سرمد
خپرندویه: سیند خپرندویه

یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام

دا لنډه لیکنه، د فواد لامع د شعري ټولګې په پلمه، د پښتو ژبې د اوسني شعر د وضعیت په اړه لیکل شوی ده. دلته یوازې د لامع شعرونه د بیلګې په توګه راخیستل شوي دي، خو په ټولیزه توګه د دې لیکنې موخه زموږ د ژبې د سوداګریزه ادبیاتو ارزول دي.

په پښتو ادبیاتو کې تل دا موضوع راپورته کیږي چې د ادبیاتو، او په تیره بیا د شعر دنده شعار ورکول نه دي او بنایي چې د ښکلا په ډګر کې وزیږول شي. حال دا چې زموږ ښاغلي شاعران هیروي چې هر شعر یو شعار دی او دا شعار کیدای شي پرمختللی وي او یا ارتجاعي.

شنډ شعرونه (شعر د شعر لپاره) د ارتجاعي شعار یوه برخه ده او شاعران یې د پرمختللي اند پر ځای ارتجاعي افکارو سره مرسته کوي او په حقیقت کې د ولس د لا تحمیق او تخدیر په موخه د ولسونو د دښمنانو تر څنګ ودریږي. دا ډله شاعران سره د دې چې د دښمن په ډګر کې ناست دي، له ولس تمه لري چې شعرونه یې زمزمه کړي، خو ولس دا سپکاوی نه مني او د پوشکین په وینا یوازې یوه ناخبره ډله لکه مچان د شاعر په غوږ کې د ستاینو نغمې واي.

سپیڅلی
۱۳۸۵

یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام

هو،
زما شعر
سوځونکې ډیوه ده
چې شپه سوځوي
او د دې حایل په تروږمه کې
- په دې ډار کې-
ستوري کري

زما شعر
شاید هغه ګل دی
چې د وینو په موسمونو کې زرغونیږي
او یا زما شعر
هغه ټوپک دی
چې د شپې په تورو غونډیو
مردکي ورووي!
(م. سرشک)

"په سلګیو کې موسکا" د احمد فواد لامع شعري ټولګه ده چې په ۸۵ مخونو کې چاپ شوې ده. که څه هم زه حق نلرم د شعر د شکل او فورم په اړه خبرې وکړم، خو د شعر د لوستونکي په توګه مې دا حق دی چې د شعر د منځپانګې په اړه خپل نظر څرګند کړم.

له دوو کلونو راپدیخوا له فواد لامع سره آشنا یم او په تیرو دوو کلونو کې مې د نوموړي شعرونو ته غوږ ایښودلی او خپل نظر مې د هغه د شعرونو په اړه په ډاګه څرګند کړی دی. په دې موده کې مو د شعر او انساني ارزښتونو، د شعر اصالت او د شاعر د رسالت په اړه پراخې خبرې کړې دي، خو...

خو بالاخره د لامع د شعرونو غورچاڼ "په سلګیو کې موسکا" ټولګې راغونډ کړې او زه یې دې ته وهڅولم چې د شاعر د شعرونو منځپانګې په اړه خپل نظر ولیکم. باید ووایم چې د فواد لامع شعرونه د شکل له پلوه پیاوړي، سلیس، روان، سمبولیک او له نوښتګرانه انځورونو څخه ډک دي.

ښه به دا وي چې د ټولګې له نوم څخه پیل وکړم.

د "په سلګیو کې موسکا" له نوم څخه داسې ښکاري چې پنځه ویشت کلن شاعر د تیرو پنځه ویشتو کالو ناخوالو، جنایتونو، دردونو، کړاونو، اوښکو، ویر، ټپونو، زګیرویو، وینې، سوځیدلو شونډو او اننګو، ستې هډوکو او په وینو لړلو زلفو په سلګیو راوستلی دی او د ولسونو مبارزې او د تلپاتې اتلانو مقاومت، د سلګیو تر څنګ د هغې پر شونډو مسکا شیندلې، خو داسې نه ده.

د ټولګې طرحه، چې د شاعر د نوښتګرانه ذهنیت ښکارندوي کوي، د یو هڅاند او ژمن شعر لوستونکي په ذهن کې له ناهیلو سره سره د هیلې روڼ انځور کاږی. دا طرحه چې یو مات زړه د یوې سکروټې په توګه انځوروي، لوستونکي ته داسې تصویر ورکوي چې ګنې د شاعر زړه له هغه ټولو جنایتونو، خیانتونو او ناورین څخه مات شوی چې په تیرو پنځه ویشتو کالو کې پر ولس یې تیر شوي، خو شاعر بیا هم ناهیلې شوی نه دی او مات زړه یې لکه سکروټه، ځځلې سوځوي او په تروږمه کې سپرغۍ کوي، خو داسې نه ده.

"په سلګیو کې موسکا " د ښاغلي علم ګل سحر په سریزه پیل کیږي. دا سریزه د لامع د ستایلو تر څنګ د شعر پر ډولونو او د شاعر څخه د لا ښه شعرونو په هیلې پای ته رسیږي. په دې سریزه کې ښاغلي سحر د لامع شعرونو منځپانګې او مضمون او فکري دریځ ته هیڅ ډول اشاره نه ده کړې او یوازې شاعر یې د "مینه ناک انسان" په ویلو سره ښه شاعر ګڼلی دی.

ښاغلی سحر په سریزه کې د شاعر په اړه لیکي: "د ده احساسات، خبرې او کړه وړه به مې چې لیدل، تل به راسره دا پوښتنه وه چې لامع ولې شاعر نه دی؟"

زه پوه نشوم چې د ښاغلي سحر موخه له احساساتو څخه څه ده او د کومو احساساتو انځورول کولای شي یو څوك شاعر کړي؟ زه پوه نشوم چې کړه او وړه څرنګه او ولې باید یو څوك شاعر کړي؟

دا رښتیا خبره ده چې لامع "احساسات" لري، خو ښاغلی سحر د دې احساساتو څرنګوالي ته هیڅ اشاره نه کوي او نه وایي چې آیا دا احساسات فردي دي که د لامع له رښتینی ژوند څخه یې سرچینه اخیستې ده؟

تر هغه ځایه چې ما د لامع د "احساساتو" په ویاله کې غوټې ووهلې، دا "احساسات" په زلفو، شونډو، معبدونو، سوچونو، خوبونو او خیالونو سینګار شوي. دا احساسات فردي دي او د ټولنې وګړې یې جدي نه نیسي، دا هغه احساسات دي چې په شپه کې کنګل کیږی او د سهرني لمر په راختلو ویلې کیږی. دا احساسات هومره کوچني او ناڅیزه بریښي چې وینې (د ایران فمینیسته لیکواله سیمین دانشور وایي چې کلیمې د انسان د وینې حیثیت لری او نه باید خپله وینه په کمه بیه او بې ارزښته شیانو ککړه کړو) ته اړتیا نلري او د اس ام اس له لارې لیږدول کیدای شي.

د لامع احساسات د ولسونو له دردونو او رنځونو سره کوم تړاو نلري. د کوڅې له هغه ماشوم سره کوم تړاو نه لري چې په ډیرانونو کې کاغذونه لټوي یا په خواړو پسې ګرځي او یا د امریکایي سرتیرو په بمبارۍ کې بلهاري کیږي او یا هم د بنسټپالۍ په اور کې سوځي. د لامع احساسات د هغو ښوونکو له کورنیو سره کوم تړاو نلری چې د پوهنې غلیمان یې سرونه پرې کوي (په داسې حال کې چې د لامع مور او پلار زړه سواندي او سپیڅلي ښوونکي دي).

لامع پنځه ویشت کاله په رنځونو او کړاونو کې خاپوړې کړي او د وینو په دریابونو کې یې لامبو وهلې او د یوه تنکي زلمي په توګه یې لومړی د جهادي بنسټپالو بربریت لیدلی او بیا یې د طالبانو کیبلونه خوړلي دي او اوس یې مېنه د زیړو شیطانانو ځاله ګرځیدلې ده، خو د لامع احساسات د پنځه ویشتو کالو دروندوالی او پرتم نلري. سره له دې چې دا ځوان او د روان قلم شاعر چې د شعر ویلو ښه استعداد لري، پنځه ویشت کاله یې باروت بوي کړي او د وینې رنګ یې لیدلی، خو شعر او احساسات یې نه د باروتو د بوی تریخوالی لري او نه هم د وینې ګرموالی. زموږ لامع لا د خوبرویانو په خیالونو کې ډوب دی او لا د صنم په زلفو کې ځانګي. له همدې امله احساسات یې له ټولنې سره اړخ نه لګوي او شعر یې سوداګریزه بڼه مومي. د لامع ټولګه یوازې د شاعرانه نذر په توګه د نورو "شاعرانو" تر منځ کاریدلای شي.

همدا ډول علم ګل سحر په دې سریزه کې کاږي: "لامع صاحب.... یو ښه شاعر او تکړه کیسه لیکوال هم دی، خو لا زموږ په ادبی کړیو کې ډېر مشهور نه و."

دلته دوه خبرې اهمیت لري: لومړی دا چې آیا لامع په رښتیا هم یو ښه شاعر دی که نه؟ دویم دا چې ولې ښاغلی سحر د شاعر مشهوریدل یوازې په ادبی کړیو کې ګوري؟

د افغانستان په څیر هیوادونو کې چې خونړی تاریخ او واکمنان لري، ښه شاعر هغه ته ویل کیږي، چې د ولسونو د لاربنودنې دنده پر غاړه واخلي. ښه شاعر هغه دی چې د دې پر ځای چې د خلکو شاته پټ پټ روان وي، باید د خلکو سلیقه او ذوق په هاند او هڅې سره خپل ځان پسې راوکاږي او د خلکو له فکري تحمیق څخه ناوړه ګټه پورته نکړي. ښه شاعر هغه ته ویل کیږي چې د خپلې ټولنې د حالاتو په وړاندې بې تفاوته پاتې نشي او د ظلم، بدمرغی، بې عدالتی او ناتار په وړاندې اعتراض وکړي او د تاریخ په زهرجن ګوګل کې د ولسونو روح فریاد کړي.

ښاغلی سحر، آیا لامع د ولسونو د لاربنود دنده تر سره کړې ده؟ آیا لامع د خلکو مخې ته روان دی؟ آیا لامع د خلکو سلیقه او ذوق بدل کړی؟ آیا لامع د خپلې ټولنې د حالاتو په وړاندې غبرګون ښودلی؟ آیا لامع د ظلم، بدمرغی، بې عدالتی او ناتار په وړاندی اعتراض کړی دی؟آیا لامع د تاریخ روح انځور کړی؟ پرته له شکه ځواب مو منفي دی، نو ولې او د څه لپاره هغه ته ښه شاعر وایاست؟؟

ښاغلی سحر، آیا د دې لپاره لامع ښه شاعر ګڼئ چې د تاریخ د روح د انځورولو پر ځای تاریخ تحریفوي؟ آیا د دې لپاره لامع ته ښه شاعر وایئ چې د ظلم په وړاندې د اعتراض پر ځای د هجران او د بخت د تورو وریځو څخه زګیروی کوي؟ آیا تاسو د دې له پاره لامع ته مینه ناک شاعر وایئ چې د بی عدالتی او بدمرغی پر ضد نه غږیږی او پر ځای یې د طبیعت په منظر کې د خپلو بې ارزښته دردونو تجلا ګوري؟

ولې لامع ستاسو په اند ښه شاعر دی، داسې نه چې تاسو هم د لامع په شان ښه شاعر ووسئ!

دویم دا چې، ښاغلی سحر د شاعر مشهوریدل په ادبی کړیو کې ګوري نه د ولسونو تر منځ. په یاد لرم چې د ډاکتر اکبر اکبر د کتاب د پیژندنې په غونډه کې ښاغلي استاد بختاني د یوې پوښتې په راپورته کولو سره ویلي وو چې ولې ولسونه زموږ (شاعرانو) غونډو ته نه راځي او تل په خپله موږ د یو بل شعر ته غوږ نیسو. د بختاني دا خبره زموږ د نننې شعر او باندړې شعرونو تر ټولو ښه او روښانه انځور ښکاره کوي.

دا چې ولې ښاغلی استاد علم ګل سحر د شاعر مشهوریدل د ولسونو پر ځای په ادبي کړیو کې ګوري او ولې استاد بختانی پر ادبي کړیو نیوکه لري، په پښتو ادبیاتو کې د سوداګریز شعر خبره راپورته کوي. له هغه ځایه چې سوداګریز شعر د خلکو له فکري تحمیق څخه پر ګټې اخیستنې زیږول کیږي او د خلکو له دردونو او رنځونو او ټولنیز ژوند سره کومه اړیکه نلري، نو یوازې د شاعر د کتابتون په رپ او یا هم د ادبي کړیو تر منځ پاتې کیږي او ولس یې پروا نلري. ولس هغه شعر لولي چې وینه ولري، خبرې وکړي، له هغوی سره وژاړي، له هغوی سره ښادي وکړي، هغوی مقاومت ته راوبلي او د بې عدالتی په وړاندې یې پاڅون ته وهڅوي. ولس هغه شعر لولیږي د نزار قبانی په وینا د باروتو بوي او د سرطاني وینې رنګ ولري. له هغه ځایه چې د ادبي کړیو د شاعرانو شعر نه د باروتو بوي لري او نه هم د شعر په رګونو کې یې سرطاني وینه شته او په شعرونو کې یوازې د معشوقې د اوربل عطرجنه وږمه څپه وهي او د وینې پر ځای د هجران اوښکې تویوي، نشي کولای د خلکو زړونو ته لار ومومي.

هغه شعرونه چې د ادبی کړیو د مشغولتیا له پاره نه زیږول کیږي، کلیمي دومره ځواک لري چې په واټونو کې انقلابونه راپاروي او په کوکارو سره د بریا زیری ورکوي. د میوند ملالۍ لنډۍ د دې له پاره وکړای شول ښکیلاکګر په ګونډو کړي، چې ادبي مشغولتیا نه وه او د ولسونو د قهر څپې ګڼل کیدې. همدا ډول د رپ ترانو د نیویارک او هارلم په ښارونو کې د تورپوټکو د مبارزې انګازې خپرې کړې او دا د نیویارک او هارلم واټونه وو چې د "پیغام" ترانه یې د زرګونو انسانانو پر شونډو زمزمه کړه، نه ادبي کړی:

لاس مې وسلې ته وړم
ځکه چې غواړي ما ووژني
ما زغم ته مه هڅوئ، نور د زغم توان نلرم
زه د وروستي ځل لپاره ترانه وایم
دا ځای د یوه ځنګل په څیر دی
او کله په حیرانتیا کې ډوبیږم
چې څرنګه کولای شم ځان وژغورم

امریکایي سندرغاړي جان لنون کلونه وړاندې د "تصور وکړه" تر عنوان لاندی د ویتنام د جګړې ضد ترانه غږولې وه، او له هغه ځایه چې دې ترانې وینه لرله او د باروتو بوي یې درلود، د لسیزو په تیریدو سره یې یو ځل بیا د عراق د جګړې ضد زرګونه امریکاییان واټونو ته راوویستل:

تصور وکړه چې ټول انسانان
د نن له پاره ژوند کوي...

تصور وکړه چې هیڅ هیواد نشته
پولې له منځه تللي
تصور یې سخت نه دی
....
د مړینې او مرګ له پاره هیڅ پلمه نشته
تصور وکړه چې ټول انسانان
په سوله کې ژوند کوي
....

شاید ووایې زه خوب وینم
خو زه یوازې نه یم
زه د هغې ورځ په هیله یم چې ته موږ سره یوځای شي
او نړۍ یوه شی.

د جان لنون، ترانه د دې له پاره نن یو ځل بیا د امریکا واټونه ډکوي، ځکه هغه په دې باور و چې هنر باید آشفته خیالونو ته د پای ټکی کیږدي او د ستم کړۍ ماته کړي. خو د ادبي کړیو د شاعرانو شعر هیڅکله دا خواک نلري او نشي کولای آن دوه تنه هم د ظلم او استبداد په وړاندې واټونو ته راوکاږي.

ښاغلی سحر لیکي: "راځئ چې په شعر قضاوت وکړو نه په شاعر."

شعر له شاعر څخه جلا ارزول غیر دیالکتیکي ارزونه ده. شعر له شاعر څخه جلا کول د یوې ټوکې لوستلو ته پاتې کیږي. شعر د شاعر له ذات او احساساتو څخه سرچینه اخلي او باید پر دواړو (شعر او شاعر) یو ځای قضاوت وشي. یو جنایتکار شاعر هیڅکله د عدالت لپاره شعر ویلی نشي، او که چیرې داسې وشي خلک د هغه شعر ته د یوې چنې په اندازه هم ارزښت نه ورکوي، ځکه شاعر یې پر عدالت باور نلري.

هیڅ شاعر له خپل شعر څخه جلا ګڼل کیدای نشي. شعر او شاعر له یوه بل سره تړاو لري. یو ځای او د یوه پوټکي لاندې ژوند کوي. شعر د شاعر وینه ده او دا وینه هغه مهال پاکه ګڼل کیدای شي چې شاعر پاک وي. که د شاعر وینه ناپاکه وي هیڅوک دې ته حاضر نه دی چې د هغه له وینې څخه د خپل ژوند د بقا له پاره کار واخلي. له هغه ځایه چې چاپیریال او ټولنه شاعر زیږوي، شاعر کولای شي د خپلو شعرونو له لارې پر چاپیریال او ټولنې اغیزه وکړي. که چیرې شاعر سپیځلی وي، نو دا اغیزه به سپیځلې وي او که چیرې شاعر سپیځلی نه وي، نو دا اغیزه به هم سپیځلې نه وي.

سیمین بهبهاني، شعر خپل ژوند او اړتیا ګڼي او وایي که چیرې شعر راسره نه وای، نو بې ارزښته موجود به وای او د ساه کښلو ارزښت به مې هم نه درلودلای او په دې ډول غواړي د شعر او شاعر نه جلا کیدونکې اړیکې ډیرې مهمې وښیي.

ښاغلی سحر د "په سلګیو کې موسکا" سریزه داسې غزوي: "ښاغلی لامع مینه ناک انسان دی. دی په رښتیني مینې باور لري او هغه کسان چې مینه تش یو هوس بولي، دغه راز کسان له مینې څخه رټل شوي بولي. "

مینه په بیلابیلو کلتورونو کې بیلابیله معنا او مفهوم لري. د بیلګې په توګه په لویدیځو هیوادونو کې له انجلۍ سره عشق او یوځای کیدلو ته مینه وایي. په داسې حال کې چې په ختیځو هیوادونو کې مینه بیله معنا لري. په دې هیوادونو کې مینه له تن څخه جلا ده او مین دې ته نه وایي چې له معشوقې سره اړیکې ولري. د دې هیوادونو په خوځنده او پرمختللي ادبیاتو کې ډیر لږ د ښکلولو خبرې کیږي. دلته مین شاعر، پاځون کوونکی، اعتراض کوونکی او لالهانده شاعر ته ویل کیږي. یو مین شاعر په هیڅ توګه نشي کولای یوازې د یوې معشوقې عاشق پاتې شي. د شاعر عشق هغه مهال اهمیت مومي چې په انساني عشق واوړي. یعني دا چې شاعر باید له ولسونو سره مینه ولري. عرب شاعر نزار قباني وایي چې په شعرونو کې یې له عشق څخه موخه نړیواله مینه ده او هغه میرمن چې په خپلو شعرونو کې ستایي هغه د نړۍ ټولې میرمنې دي او د ایران مبارز شاعر احمد شاملو له خپلې میرمنې(آیدا) سره مینه داسې ستایي:

ما دې سترګو او شونډو سره
مینه پیدا کړه
ستا له تن سره مې مینه پیدا کړه،
یو ناکراره څیز په ما کې آرامتیا ومونده
یو څه په ما کې وغوړیدل

زه بیا د خپل ماشومتوب په زانګو کې خوب یووړلم
او خپله پخوانۍ موسکا مې

بیا وموندله
.....
غږ درته کوم غوږ راته ونیسه، زړه مې درته غږ کوي
شپې ګردچاپیر راته دیوالونه جوړ کړي
د زړه له پنجرې ستا ستورو ته ګورم
څکه هر ستورى یو لمر دى

زه په لمر باور لرم
زه په سیند باور لرم
او ستا سترګې د سیندونو سرچینه ده
انسان د سیندونو سرچینه ده.

لامع په مینه باور لري، خو نه په رښتیني مینې. هغه خپله مینه په تقدیر، خواره وصل، د معشوقې د مینې انکار، د مینې څښتونه او په تاویزونو کې ګوري. لامع د یو "مینه ناک" شاعر په توګه لا د سترګو د ښایست، د شونډو له سوروالي، د وصل له خونده، د هجر له محبته او د حسن له صحیفو څخه، چې پیرى وړاندې پیل شوي، ستړى نه دى او په دې کوڅو کې د مینې تاویزونو او څښتونو پسې لالهانده ګرځي.
څوک په رښتیني مینې باور لري او مینه تش هوس نه بولي او دغه راز کسان چې ژوند یې پر هوس ولاړ دى له مینې څه رټل شوي بولي، د "په سلګیو کې موسکا" شاعر که ا. سایه؟

ډېره موده ده، ګالیا!
زما په غوږ کې د دلبرۍ افساني مه وایه!
نور زما نه د مینې ترانې مه غواړه!
ډېره موده ده، ګالیا
کاروان رهي شوى.
زما او ستا مینه؟
آه.....

دا هم یوه کیسه ده
خو دا وخت چې ټول د شپې د ډوډۍ له پاره
لالهاند دي
نور د کیسو له پاره مهال نشته.
(ا.سایه)

لامع اوري او ګوري چې دا وخت د هیواد شپږ میلیونه خلک یې له لوږې سره مخ دي، ۵۰۰۰۰ ماشومان یوازې په پلازمېنه کابل کې درویزګري کوي، د بیوزلۍ له امله بدلمنې مخ په ډېرېدو ده، په سلو کې ۵۶ ځوانان وزګار دي، په سلو کې یوازې ۰.۱۵ تنه لوړو زده کړو ته لاسرسى لري. په هرات کې پیغلې په اور کې وریتیږي، په بدخشان کې پر میرمنو ډله ایزه تیرى کیږي، کوچنۍ ماشومه د قمار په میدان کې له سپي سره بدلیږي، سویل یې په وینو کې ډوب دى، په درې کیلومترۍ کې یې شیرپور لوټیږي، هیواد یې د نیواکګرو لاس ته پریوځي او... خو زموږ د"مینه ناک" شاعر "احساسات" کنګل شوي او یوازې د معشوقې په وریښمینو زلفو کې زنګیږي او مینه د هوس په غوجل کې حلالوي.
له سریزې وروسته، شاعر د "دغه ټولګه" تر نامه لاندې، په لنډو کې د شعر په اړه خپل نظر کاږلى دى. د "په سلګیو کې موسکا" شاعر لیکي: "ځینې کسان شعر او شاعري یو تفنن ګڼي او یا وایي چې هنر یوازې د هنر له پاره دى. خو زه پر دې باور نه یم."
د لامع د شعرونو په لوستلو سره به دې پایلې ته ورسیږو چې شاعر، شعر ته د تفنن په سترګه ګوري که د بدلون د وسیلې په توګه؟ آیا هغه پر رسالتمن شعر باور لري؟ که یوازې شعر د شعر له پاره وایى؟؟
که د شاعر له لومړي غزل څخه پیل وکړو، نو ویلى شو چې لامع شعر د تفنن په توګه کاروي. په دې غزل کې شاعر د خوبونو، خیالونو، معبدونو او خوبرویانو شاعر دى او د "حسن صحیفي په سوچونو کې" او "خپل قسمت د زلفو په تاوونو کې لولي":

د پاکو هیلو کرښې، په خوبونو کې لولمه
تعبیر مې د خوبونو، په خیالونو کې لولمه

د مهرپه مانا مې، زړه ایمان نه و راوړی
خو اوس یې پاک سرود په معبدونو کې لولمه

کوډګر د کوڅې نه یم چې کرښې د لاس ګورم
تقدیر د خوبرویانو، په باغونو کې لولمه
....
د سترګو تور قلم مې، ستا انځور کې پاته راغی
د حسن صحیفی دی، په سوچونو کې لولمه

د لاس غریبې ګوتې، اندیښنو په تاو راوستی
قسمت یې ستا د زلفو په تاوونو کې لولمه

د دې غزل په لوستلو دې پايلې ته رسيږو چې شاعر له شعر سره تفنني چلند لري او باورمن دی چې شعر يوازې د شعر له پاره باید وویل شی. په داسې حال کې هغه ژمن او رسالت لرونکی شاعران چې د شعر پر تفنن باور نلری او شعر د تیرې وسلې په توګه کاروي، خپل هوډ او هیله داسې انځوروي:

زما د ګونډو کولو بې ځایه هڅه
پرېږدئ
راشئ،
زه رحم نه غواړم
ستاسو په وینو لړلی څټک
به زما د سترګو په پټونې کې
ناکامه شي.
زه په ناسته نه، ولاړ به مړ شم
ترانو مې رازده کړه
له آزادئ سره مینه

او ترانې به مې رازده کړي
بې له ډاره مړینه
زما ژوند د خلکو له پاره یوه ترانه وه
او مړینه به مې د آزادی د جګړې لپاره
انګازه شی.
(موسی جلیلوف – تاتاری شاعر)

د لامع د شعر قلم چې کله په ګډا شي، په هوسونو، خیالونو، د بخت په تورو وریځو، غمونو او هجران کې نیشه کیږي او په داسې حال کې چې د ژوندون څپانده سیند په بهیدو دی، هغه خوب وړي او کله چې له خوبه راپاځیږي، د مینې غوټی یې رژیدلې وي او پر نصیب یې بلبل ژاړي او هغه بیا په نمجنو سترګو ویده کیږی او د ژوندون څپانده سیند لا په بهیدو وي. په داسې حال کې چې زموږ د شاعر په شعرونو کې نه کرکه شته او نه انتقام، نه پاڅون شته او نه اور، نه غرور شته او نه سرغړاوی؛ خو نادر نادرپور د کرکې، انتقام او پاڅون شاعر دی، نه د زلفو او جامونو:

په زړه کې مې یو شعر دی
یو شعر چې حرفونه نه دي، هوس نه دی، زګیروی نه دی
یو شعر چې اور دی

یو شعر چې ستې مې، سوځوي مې مدام
یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام

یو شعر چې له هیڅ غوږ سره آشنا نه دی
یو شعر چې له هیڅ نوم سره تړاو نه مني

په زړه کې مې یو شعر دی
یو شعر چې خوښ یې لرم خو ویلی یې نشم
غواړم ویې وایم، غواړم ویې نه وایم

یو شعر چې د لیدني په څېر په هیڅ قالب کې ځای نشی
یو شعر چې د چوپتیا په څېر پاتې شوی په یوې شونډې
یو شعر چې د ژوند لیوالتیا ده، د مړیني ویره ده
یو شعر چې کوکاره ده، لمبه ده او غوغا ده
یو شعر چې لکه غرور سرلوړی او سرغړونکی دی
یو شعر چې اور دی!

د "په سلګیو کې موسکا" شعرونه د معشوقې په مکیز، خندا، ژړا، خوږو خوږو خبرو، دعا، ښیرا، غصې، قهر، شور، شنا او هجران کې ډوب دي او د شاعر یوازینی هیله دا ده چې معشوقه یې ورچیغې کړي:"چې په دې لویه نړۍ کې یار مې نشته، بې له تا".

که خندا که یې ژړا
که مکیز که یې ادا
که خوږې خوږې خبرې
که دعا که یې ښیرا
که غصه او که یې قهر
که یې شور که یې شنا
.....
خو چې ووایې جانان مې
په اخلاص او په صفا
چې په دې ټوله نړۍ کې
یار مې نشته، بې له تا!

خو د ترکیې نامتو شاعر ناظم حکمت، شعر د مکیز او ناز او کرشمې او د معشوقې هجران نه ګڼي:

زما په ټاټوبي کې
کټ مټ ستاسو د ټاټوبو په شان
په سلو کې اتیا خلک لیک او لوست نشي کولای
شعرونه په ترانو اوري او خوله په خوله تکراریږي
زما په ټاټوبي کې شعرونه په بیرغونو بدلیدی شي
کټ مټ ستاسو د ټاټوبو په شان
ورونو،
زموږ شعرونه باید وکړای شي د ډنګرې او خوارې غوا تر شا وترل شي
او ځمکه قلبه کړي
باید د شولو په کروندو کې
تر زنګونونو په ډنډونو کې ډوب شي
باید وکړای شي
هر څه وپوښتي
باید وکړای شي ټولې رڼاوې غنچه کړي
باید وکړای شي د لارو پر سر ودریږي
او د کیلومتر شمیرونکو ډبرو په شان
باید نږدې کیدونکی دښمن له ټولو وړاندې وپیژني
باید وکړای شي په ځنګلونو کې تام تامونه وغړوي

تر هغه چې په نړۍ کې یو اسیر هیواد او یو اسیر انسان پاتې وي
او په آسمان کې یوه اتمي وریځ

زموږ شعرونه باید خپل ټول مال او ځان
فکر او اند
د لویې آزادۍ په لاره کې بلهاري کړي.

د لامع شعر په ترانو بدلیدي نشي او خوله په خوله نه تکراریږي، ځکه چې شعر یې په هلمند کې د ډنګرۍ غوا تر شا نشي تړل کیدی، شعر یې ځمکه قلبه کولای نشي، د بغلان په نهرین او د کندز په چهاردرې کې د شولو په کروندو کې تر زنګونونو ډوبیدلی نشي. نژدې کیدونکی دښمن نه پیژني او له هغه ځایه چې شعر یې هیڅ فکر نلري، د لویې آزادۍ په لاره کې بلهاري کیدی نشي. هیواد لا اسیر دی او انسانان په اسارت کې ژوند کوي، خو زموږ د شاعر شعر د خپلواکی په بیرغ بدلیدی نشي، ځکه د شاعر شعر د حسن په صحیفو کې نیشه دی او نیشه ای شعر رښاوې غنچه کولای نشي.
د لامع شعر نه یوازې دا چې دښمن پیژندلی نشي، له دښمن څخه د ژوند لپاره سوال کوي:

زه د مرګي له تیارې کندې څخه نه ویرېږم
پام چې ډارن نه یمه
خو لږ څه صبر وکړه
ځکه تر اوسه مې جنت ته تلوسه نشته

خو هغه شاعران چې دښمن پیژني او شعرونه یې د کیلومتر شمیرونکو ډېرو په شان دښمن تر ټولو دمخه ګوري، د مرګ په وړاندې داسې فریاد کوي:

نه، کومه ویره نشته
زه په زرهاو ځل
تیرباران شوی یم
او په زرهاو ځل یې
زما ښایسته زړه له دار څخه ځړولی دی
او په زرهاو ځل یې
د تاریخ ټولو شهیدانو سره
زما خوټکیدلي وینه
پر ځمکې تویه کړې ده.
(ابتهاج سایه)

د لامع په شعرونو کې د بې عدالتی او نابرابرۍ، د زخمونو او ټپونو، د جنایتونو او خیانتونو او ناخوالو او ناتارو په اړه څه نه موندل کیږي. پوښتنه دا ده چې کوم احساس لامع شاعرکړی دی؟ حال دا چې زموږ د سیمې پیاوړي شاعران لکه اخوان ثالث د ژوندانه کړاونو، دردونو، رنځونو، د ملتونو بدمرغیو او بې عدالتیو شاعران کړي دي او له شعر څخه یې د چړې په توګه د ظلم پر ضد کار اخیستی دی.
لامع د دې پر ځای چې د ټولنې د نیمایي ځواک پیاوړتیا انځور کړي، په خپلو شعرونو کې میرمنې د عشق او مینې وسیله ګڼي او د میرمنو د شونډو، زلفو او سترګو په ښایست کې د خپلو هیلو غوټې مومي. کله چې میرمنې د لامع د دې لید پر ضد اعتراض کوي او له شاعر څخه تښتي، شاعر خپل ځان شرمنده ګڼي او ټول بدن یې په کرکې بدلیږي:

نه مې دا وس و، چې شم تم ورسره
نه مې مخ ته یې په ځیر کتلای شوای
ښایي د مینې شرمنده یې اوسم
او یا د خپل مات شوي زړه په کسات
ترینه اوس کرکه او نفرت لرمه!

عرب شاعر نزار قباني له میرمنو څخه کرکه نلري. هغه له میرمنو سره مینه لري او وايي چې میرمنې د آزادۍ د لاس ته راوړلو یو پیاوړی ځواک دی. قباني د دې له پاره میرمنو ته شعر وايي چې هغوی د خلیفه ګانو او د قبایلي

چاروکو له اسارت څخه آزادي کړي. قباني د دي له پاره میرمنو ته شعر وایي چي هغوی له پخلنځي څخه راوباسي، کنیزتوب ته یې د پای ټکی کیږدي او د درمند پر ځای په ټولنه کې ورګډې شي او د تاریخ بهیر ګړندی کړي.
د لامع هلمندی، زابلی، کندهاری، ارزګانی، هراتی او بدخشانی خویندې په سرو وینو کې لت پت دي او په لمبو کی سوځي خو زموږ شاعر د سوځیدلو میرمنو د ټپونو پولی نه ګوري او داسي کاږي:

مینه دې اور شوله، شغله شوه ټول راوینغاړمه
ځان مي لمبه شو، هډ مي وسوځید، ځیګر مي کړم
نه دي ستایلي شم زما مینې په دا څو کرښو کې
نه چې ښایست دې راته مات کړ هم د ذهن قلم؟

رښتیا، ولي زموږ د شاعر ځان، پر یوې پیغلي د تیري په اوریدلو سره نه لمبه کیږي، هډ یې نه سوځي او....؟؟ ولي زموږ د شاعر ځان د جنایتونو په وړاندې نه شغله کیږي او زړه یې اور نه اخلي؟؟ زموږ شاعر د ښایست په شغلو کې سوځي خو فلسطینی شاعر د ناتار په وړاندې شغله او هډ یې سوځیږي:

که مجبور شم ډوډی له لاسه ورکړم
که مجبور شم خپل کمیس او بالاپوش وپلورم
که مجبور شم ډبري ماتې کړم
یا بار وچلوم
یا جارو وکړم
که مجبور شم ستا زیرمتونونه پاک کړم
یا په ډیرانونو کي خواړو پسي وګرځم
یا له لوږې مړ شم
او د ځمکي لاندې شم
ای د بشر دښمنه
زه به جوړجاړی و نه کړم
او تر وروستی سلګی پورې
تا سره جنګیږم.
(سمیع القاسم)

لامع څه کوي؟ زموږ شاعر له دښمن سره جوړجاړی کوي، که تر وروستی سلګی پورې جنګیږي؟ آیا لامع به وکړای شي د بشر د دښمن د ځپلو له پاره خپل کمیس او بالاپوش وپلوري؟؟ نه. نه یې شي، ځکه هغه په کوڅو کې په تاویزونو پسي ګرځي.
په داسي حال کې چي یوازې په سویل کې نژدې دوه سوه زره ماشومان ښوونځي ته نشي تللی، د هیواد په ګوټ ګوټ کې ښوونځي سوځي او د ښوونکو سرونه غوڅیږی، لامع د بشریت د دښمن پر ضد آن یوه اوښکه هم نشي تویولی، د کمیس او بالاپوش پلور خو پریږده. لامع د دې ټولو جنایتونو په وړاندې چپه خوله ناست دی او پر اننګو یې اوښکي نه تویيږی او پر ګریوان یې سرې چیني نه بهیږي. دا یوازې د معشوقي مکیز دی چي لامع ژړوي او پر ګریوان یې سرې چیني تویوي:

زما لیمي کمزورې نه وې
چي د اوښکو باران جوړ کړي
خو دا ستا ترو خیالو مي
پر سپیره ګریوان، په مینه
سرې چیني وبهولې!!

د لامع د خیالونو نړۍ هومره کوچنی ده چي انسان ورته هک پک پاتې کیږی. په دې نړۍ کي چي بیوزلي، ناروغي، ډله ایزه وژنې، لوټ، د ماشومانو وژل او... ورځ تر بلې سیوا کیږی، د شاعر لومړنی او وروستی خبره دا ده:

هینه پاته وه له مینې
په کرار یې راته ووی

چې که مور سره جلا شوو
ستا وروستی خبره به څه وي؟
زه یې لا هیښ کړمه له ځانه
هک حیران ورته ولاړوم
وي عجیبه مې پوښتنه
خو ځواب ته مې تلوار دی
له خیاله رابهر شوم
د هجران غم مې په زړه شو
ورو مې وویل چې آخر به
زه اول کلام تکرار کړم :
پر ما ګرانه یې له هر څه!
پر ما ګرانه یې له هر څه!

رښتیا زمور او د امریکا د توریوتکي شاعر تر منځ څومره توپیر دی. د امریکا توریوتکی شاعر لینګستن هیوز په شعر کې د لومړي او وروستي ځل له پاره هیله کوی چې وینه یې د انقلاب په ویالو کې توی شی تر څو په نړی کې زبیښاک ته د پای ټکی کیښودل شي. هیوز خپله لویه نړی داسي انځوروي:

زه په خپلو خیالونو کې داسې نړی وینم
چې هلته هیڅ انسان بل انسان خوار نه ګڼي
ځمکه له مینې او ملګرتیا څخه ډکه ده
او سوله او سوکالي، خپله لاره سینګاروي

زه په خپلو خیالونو کې داسې نړی وینم
چې هلته، ټول د آزادی پرتمینه لاره پیژني
کرکه څوک نه چیچي
او لالچ، ژوندون پر مور نه توروي
زه په خپلو خیالونو کې داسې نړی وینم
چې هلته تور یا سپین
_ د هر توکم چې وي_
د ځمکي له پراخو نعمتونو څخه برخمن دی
هر انسان آزاد دی
بدمرغي له شرمه سر ښکته اچوي
او ښادي د لوړبیې مرغلرې په شان
د ټول بشریت اړتیاوې پوره کوي.

زمور ولس دښمنان لري، خو شاعر مو دښمن نلري. شاعر په خپلې ټولګي کې له آسمانه ګیله من دی. شاعر له آسمانه غواړي چې داسې د عشق پیغام وشیندی چې جنایتکاران، بنګسالاران، پاټکیان، خادیان، اماراتیان او جهادیان ټول لـه یـو بل سره غاړه غاړې او د نړیوالي ټولني په غیږ کې مکیزونه پیل کړي.

آسمانه مور خو څه دښمن دې نه وو
چې دې زمور هیلې په ړلی وویشتې
مور خو له وریځو دې باران وغوښته
داسې باران چې،
له سپینو وریځو نه پر تورو زړونو
د عشق پیغام وشیندي
او بیا دې لمر په سترګکو کې لړ موسکی غوندې شي
په خپلو نرمو وړانګو
د محبت تخم زرغون کړي پر دې وچو، سپیرو

خو د چیلي نامتو شاعر پابلو نرودا نه یوازې دا چې له خپلو دښمنانو سره غاړه غړی نه دی، بلکې خپل دښمنان داسې ګوابنې:

زه د جلاد پر ضد
چې د وژنې فرمان یې ورکړی
د هغه خاین پر ضد
چې د واکمنۍ لپاره
منګولې یې ککړې
په دې بی رحمه جنایت دي
د سزا اعلان کوم.

په دې ټولګه کې ظاهراً ځو ټولنیز شعرونه هم راغلي دي. دې شعرونو د لامع ټولګې ته د یوه لوی پلورنځي بڼه ورکړې ده. په یوه سوپر مارکیټ کې هر پیرونکی کولای شي خپل دخوښې توکي په بیلابیلو بیو تر لاسه کړي. د لامع په ټولګه کې هم داسې ځینې شعرونه راغلي چې ټولنیز اړخ لري، خو په دغه اړخ کې هم جوړجاړی لیدل کیږی. د لامع شعرونه تخدیرکوونکي دي. د دې پر ځای چې ځوانان خوځښت ته وهڅوي، هغوی په رنګینو خیالونو او سوچونو کې روږدوي.دا ټولګه د دې پرځای چې د غشي په توګه وکارول شي، د نشه ای توکو د پیچکارۍ بڼه لري. دا شعرونه په نامستقیمه توګه ارتجاع او بنسټپالۍ ته خدمت کوي. ځکه د یوه شاعر شعر د هغه او د ټولنې بیوګرافي ګڼل کیږي. که چیرې په شعرونو کې په داسې حال کې چې رنځ وي، درد وي، خیانت وي او جنایت، د بلبل، عشق، مینه، عطرینه وږمه، سرې شونډی، سلایۍ، سپینه سپوږمۍ او له زلفو خبرې وشي، د دې ښکارندوی کوي چې د شاعر د ژوند په مهال نه رنځ و، نه جنایت او نه خیانت. یو شاعر چې پنځه ویشت کاله پر واټونو وینه لیدلي وي، باروت یې بوي کړي وي، د وسلو په لوګیو کې لوی شوی وي؛ د خلقیانو، پرچمیانو، جهادیانو او طالبانو جنایتونو یې د ژوند هره شیبه ګواښلي وي او په خپلو شعرونو کې یې انځور نکړي، په دې مانا ده چې د خپل ژوند بیوګرافي غلطه لیکي او له تاریخ سره جفا کوي. زموږ شاعر پوهیږي چې جنایتکاران په دې لټه کې دي چې د خپلو جنایتونو نښې نښانې ورکې کړي او زموږ شاعر د دې لټې د پیاوړتیا یوه ښه وسیله ده.
هغه شعر چې دښمن ته ځورونکی نه وي او ځورونکی فکر ونلري، سوداګریز شعر ګڼل کیږي. سوداګریز شعرونه یوازې د واکمنانو د ګټو د خوندیتوب په موخه کارول کیدای شي. یو شمیر شاعران داسې استدلال کوي چې پوهه ورکوونکي شعرونه "سیاسی" او "شعاري" دي. که پوهیایي ورکوونکي شعرونه سیاسي ګڼل کیږي، نو تفننی شعرونه هم کولای شو سیاسي وګڼو. توپیر یوازی په پرمختللي او ارتجاعي سیاست کې دی. پرمختللی سیاست له شعر څخه د خلکو د پوهیایي او د استبداد په وړاندې د پاڅون له پاره کار اخلي، حال دا چې ارتجاعي سیاست له شعر څخه د خلکو د تخدیر او صوفیانه ژوند ته د هڅولو لپاره کار اخلي. د پرمختللي سیاست شعر په واټونو کې د عدالت، برابرۍ، انسانیت، سوکالۍ او د دموکراسۍ پرتمنیه ترانه غږوي، حال دا چې د ارتجاعي سیاست شعر بې عدالتي، نابرابري، ظلم او ستم ډیروي او د بلوسګرۍ لمن غزوي.
د پرمختللي سیاست شعر د ولسونو په زړونو کې ځای لري او زرګونه انسانان سره راټولوي او د بیوزلۍ پر ضد یې یووالي ته هڅوي، حال دا چې د ارتجاعي سیاست شعر د ځو خراباتی کسانو لخوا کلابند دی او په ادبي کړیو کې بند پاتې کیږي:

یوه ناخبره ډله له شاعر څخه راچاپیره شوې
لکه مچانو د شاعر په غوږ کې د ستایلو نغمې لولي
شاعر بې خیاله او غمجن دا نغمې اوري
او په مات شوي زړه رباب غږوي (پوشکین)

شايد ووايې زه خوب وينم

خو زه يوازې نه يم

زه د هغې ورځ په هيله يم چې ته موږ سره يوځای شې

او نړۍ يوه شی

ميند
خپرندويه

۱۳۸۷